# راشه!

# چې سترگې مې له مځکې نه راټولې کړمه

(څلورمه شعري ټولگه)

آصف بهاند

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: راشه! چې سترګې مې له مځکې نه راپورته کړمه، (ځلورمه شعري ټولګه)،

شاعر: آصف بهاند،

د خپرېدو نېټه: د ۲۰۲۰ کال سپټمبر،

د خپرېدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورټال.

# راشه!

## چې سترګې مې

## له مځکې نه راټولې کړمه

**دا څو لوېدلې زېړې پاڼې ګورې**

**داسې مې سترګې دي لوېدلې درپسې**

**راشه چې سترګې مې له مځکې نه راټولې کړمه**

(آصف بهاند)

## د سرليکونو فهرست:


| | |
|---|---|
| ۱ ـ موږه زاړه کې بند يو | ۱۰ ام مخ |
| ۲ ـ او زه وروستی يمه اوس | ۱۰ ام مخ |
| ۳ ـ د زړه ټپ | ۱۱ ام مخ |
| ۴ ـ مينه څه ده؟ | ۱۱ ام مخ |
| ۵ ـ سبزه هندوه | ۱۲ ام مخ |
| ۶ ـ له روڼ سهاره تر ماښامه پورې | ۱۳ ام مخ |
| ۷ ـ نور يې زغملای نه شم! | ۱۳ ام مخ |
| ۸ ـ دغه د وير، وينو او اوښکو ټيکه دار ولې موږ؟ | ۱۴ ام مخ |
| ۹ ـ يوازيتوب او ژمنه | ۱۵ ام مخ |
| ۱۰ ـ د لوی درياب تر څنګه تږی يمه | ۱۵ ام مخ |
| ۱۱ـ جهالت زموږ په سر کې ځاله کړې | ۱۶ ام مخ |
| ۱۲ ـ په موزيکال ډول مې زړه ټپيږي | ۱۷ ام مخ |
| ۱۳ ـ يمه مرغی، خو يو وزر نه لرم | ۱۷ ام مخ |
| ۱۴ ـ وخت او زما زړه | ۱۸ ام مخ |
| ۱۵ ـ زه دا ثواب ګټمه | ۱۹ ام مخ |
| ۱۶ ـ دا زموږ خلک چې دي: | ۱۹ ام مخ |
| ۱۷ ـ او موږه ژاړو چې ځو | ۲۰ ام مخ |
| ۱۸ ـ جنتونه، دوزخونه | ۲۰ ام مخ |
| ۱۹ ـ د ميني ميلودي | ۲۱ ام مخ |
| ۲۰ ـ د سترګو فرش | ۲۲ ام مخ |
| ۲۱ ـ خو زموږ، ځوان نسل دی پرمخي پروت | ۲۲ ام مخ |
| ۲۲ ـ ډار | ۲۳ ام مخ |
| ۲۳ ـ زما تصوير د زړه په کور کې کيږده! | ۲۵ ام مخ |
| ۲۴ ـ آ پخواني جنت ته | ۲۶ ام مخ |

۲۵ ـ لمر په لک څک راگوري ۲۶ ام مخ
۲۶ ـ د زړه دیوال باندې مې تت انځور دی ۲۷ ام مخ
۲۷ ـ ډالۍ گـــلاب ۲۸ ام مخ
۲۸ ـ د زړه حال ۲۸ ام مخ
۲۹ ـ ځان په دې سوبمن وبولو، چې خپل مړي شهیدان کړو ۲۹ ام مخ
۳۰ ـ د زړه کتاب پاڼې د سترگو په آیینه کې لولو ۳۰ ام مخ
۳۱ ـ د ویر ټیکه یوازې مور وهلې ۳۱ ام مخ
۳۲ ـ اوبه مې اور شوې راته ۳۲ ام مخ
۳۳ ـ یوازې تا غواړمه! ۳۳ ام مخ
۳۴ ـ دغه د اور او ویر کیسه به وې تر څو روانه ۳۳ ام مخ
۳۵ ـ ځانته حیران یم چې بې مینې څنگ ژوندی پایمه ۳۴ ام مخ
۳۶ ـ د موسکا پور ۳۴ ام مخ
۳۷ ـ د تاریخ قضاوت، د هډوکو شهادت ۳۵ ام مخ
۳۸ ـ پور اخیستې خندا ۳۷ ام مخ
۳۹ ـ ښکل مې کړې، خو... ۳۷ ام مخ
۴۰ ـ څلوریځه ۳۸ ام مخ
۴۱ ـ یوه بې بریده خوښي او یو بې ژبی احساس ۳۸ ام مخ
۴۲ ـ لږ دې موسکا په مخامخ راتلو کې راباندې ولوروه ۳۹ ام مخ
۴۳ ـ ځان ته دې نږدې بولم د ځان په څیر ۳۹ ام مخ
۴۴ ـ د گلانو زړه کې ۴۰ ام مخ
۴۵ ـ ته به نو څه پوه شې، د زړه د درزیدا په ژبه ۴۰ ام مخ
۴۶ ـ مات زړه (۲) ۴۱ ام مخ
۴۷ ـ د مینې کلي کې په مخه راغلې ۴۲ ام مخ
۴۸ ـ تــه ښـه پـوهیږې طلبگار دې یمه ۴۳ ام مخ
۴۹ ـ «... له زیړو پاڼو ټولې ونې ډکې دینه» ۴۴ ام مخ
۵۰ ـ ... ته وا له موره دوی گونگیان پیدا دي ۴۵ ام مخ
۵۱ ـ لمر د وریځو له کړکیو ۴۵ ام مخ
۵۲ ـ رقیب کتو ځنې انکار وکوه! ۴۶ ام مخ

۵۳ ـ په خپله خوښه بیلـتـون ۴۶ ام مخ
۵۴ ـ زما میني (د یوه شعر ازاده ژباړه) ۴۷ ام مخ
۵۵ ـ غلـی خـپـل شـور کي مي بـیا وسوزوه ۴۹ ام مخ
۵۶ ـ زه یې اټکل کومه چي دغه توري لړ دي ۴۹ ام مخ
۵۷ ـ او رژیدلي ارمانونه وو بس ۵۰ ام مخ
۵۸ ـ خو مه کړه راشه، چي روان شو پر دې زیړو پاڼو ۵۰ ام مخ
۵۹ ـ راشه! چي سترګي مي له مځکي نه راټولي کړمه ۵۱ ام مخ
۶۰ ـ لړه موسکا دې راډالۍ کړه چي ډېر تږی یمه ۵۱ ام مخ
۶۱ ـ هغه د لاس نښه دې ۵۲ ام مخ
۶۲ ـ کار له کـار تیر دی، مار راغلی دی لستوڼي ته مې ۵۲ ام مخ
۶۳ ـ د زلفو اتڼ ۵۳ ام مخ
۶۴ ـ له اوږدو لارو، ژور تل نه بیا ډاریـږې ولې؟ ۵۳ ام مخ
۶۵ ـ مینه او تار لرمه ۵۴ ام مخ
۶۶ ـ د پنځ په هکله او د خدای په باب چورتونه وهم ۴۵ ام مخ
۶۷ ـ ملا دوزخ، عاصي جنت یادوي ۵۵ ام مخ
۶۸ ـ ستا د وصال سل زر غږونه راتلل ۵۵ ام مخ
۶۹ ـ یـو وار نـه، بـد ټول مکـرر پټوي ۵۶ ام مخ
۷۰ ـ غـزني ۵۷ ام مخ
۷۱ ـ خدمتګار قصابان ۵۷ ام مخ
۷۲ ـ سوي غزني ځني د وینو بوی ځي ۵۸ ام مخ
۷۳ ـ سترګې هندوې او ادا هندوې ۵۹ ام مخ
۷۴ ـ ... که کوم څوک د ثواب لټه کوي ۵۹ ام مخ
۷۵ ـ ختیځه مینه ۶۰ ام مخ
۷۶ ـ نه یې شړلی شمه، نه یې زغملی شمه ۶۱ ام مخ
۷۷ ـ وینه، زه او ته ۶۲ ام مخ
۷۸ ـ لاس ته که رانغلې، نو مړ مې بوله ۶۳ ام مخ
۷۹ ـ دا دی روان یمه بې سره، سر مې لاس کې خاندم ۶۴ ام مخ
۸۰ ـ د خپل نعمت باران دې بند کړ ولې؟ ۶۵ ام مخ

| | |
|---|---|
| ۸۱ ـ ځلوریزه | ۶۵ ام مخ |
| ۸۲ ـ دې نه ډاریږم، چې دې هجر کې رنګ زیړی نه شم | ۶۶ ام مخ |
| ۸۳ ـ خو زه دې اوس هم د خندا او مینې لارې څارم | ۶۷ ام مخ |
| ۸۴ ـ زړه دې ښه ډک د سترګو غولی دې لوند | ۶۷ ام مخ |
| ۸۵ ـ او زه ګونګې خوله پټه (د مور مړینې ته مې) | ۶۸ ام مخ |
| ۸۶ ـ ستا د نه شتون د ویر شپې شمیرمه | ۶۹ ام مخ |
| ۸۷ ـ ته خیالیګره وې، له خیاله ډکه | ۷۰ ام مخ |
| ۸۸ ـ لار مې اوږده مخکې ده | ۷۱ ام مخ |
| ۸۹ ـ کله چې ورغلم، ورتوبه وایم | ۷۱ ام مخ |
| ۹۰ ـ پاتې سلام، پاتې کلام | ۷۲ ام مخ |
| ۹۱ ـ مورې مننه چې ویده دې کړمه! | ۷۳ ام مخ |
| ۹۲ ـ څه ښه یو درمند؟ ښه بڼ؟ | ۷۴ ام مخ |
| ۹۳ ـ لوګي | ۷۴ ام مخ |
| ۹۴ ـ لمبې د مینې میلودي غبرګوي | ۷۵ ام مخ |
| ۹۵ ـ کرکه، مینه | ۷۵ ام مخ |
| ۹۶ ـ خپل زړی به شیندم، کروندې هم نغدې وترې دي | ۷۶ ام مخ |
| ۹۷ ـ بلا او جولا | ۷۶ ام مخ |
| ۹۸ ـ ایله مې تا سره شي تنده ماته | ۷۷ ام مخ |
| ۹۹ ـ پــلار | ۷۷ ام مخ |
| ۱۰۰ ـ د پاڼریز مېلودي | ۷۸ ام مخ |
| ۱۰۱ ـ لمر، سر او سمندر | ۷۸ ام مخ |
| ۱۰۲ ـ د ویرونو میلمستیا | ۷۹ ام مخ |
| ۱۰۳ ـ ویرونه زانګې پکې | ۷۹ ام مخ |
| ۱۰۴ ـ درونډ په خوب ویده پښتون | ۸۰ ام مخ |
| ۱۰۵ ـ شین سهار | ۸۰ ام مخ |
| ۱۰۶ ـ اروپایي همځولي | ۸۱ ام مخ |
| ۱۰۷ ـ ښاروال او ښوال | ۸۱ ام مخ |
| ۱۰۸ ـ زبون وهلي | ۸۲ ام مخ |

۱۰۹ـ چې مې د کلي لوړ کمرهَ باندې نظر ولگېد ۸۲ ام مخ
۱۱۰ ـ دا چې په بند کې يم، غرېږم کنه! ۸۳ ام مخ
۱۱۱ ـ د زړه ټوټې دې وې شمېرلې ان تر زرو پورې ۸۳ ام مخ
۱۱۲ ـ اوښکې ۸۴ ام مخ
۱۱۳ ـ «دنگ دې وي، لونگ دې وي!» ۸۵ ام مخ
۱۱۴ ـ زړه کې، وطن کې او په هر ځای کې شنيلی به شي بيا ۸۶ ام مخ
۱۱۵ ـ زما د خوښې گلالی افغانستان جوړ کړي ۸۷ ام مخ
۱۱۶ ـ فکر کې ته او په هنداره کې ته ۸۸ ام مخ
۱۱۷ ـ نور ډاډه شوی وم چې بيا نه راځې ۸۸ ام مخ
۱۱۸ ـ سم نيغ روان ومه، پـه ملا کې پـه دوه قات شومه زه ۸۹ ام مخ
۱۱۹ ـ څلوريزه ۸۹ ام مخ
۱۲۰ ـ تود اورتون (د فـرخندې څلورم تلين) ۹۰ ام مخ
۱۲۱ ـ بيا مې يادېږي د ياری هغه د پيل شېبې ۹۱ ام مخ
۱۲۲ ـ نن زه کېنمه، نن مې خپله حافظه گورمه ۹۱ ام مخ
۱۲۳ ـ ستا د نه شتون شېبه کې ۹۲ ام مخ
۱۲۴ ـ ولې له تا نه زه په منډه هېر شوم؟ ۹۲ ام مخ
۱۲۵ ـ ما دې راتلو ته، قدمو ته وو کرلي د لاله گلونه ۹۳ ام مخ
۱۲۶ ـ د يوه هنرمند مړينه ۹۳ ام مخ
۱۲۷ ـ او د خپل زړه په کرونده کې مې د تا د ښکلې مينې بزغلي کېنول ۹۴ ام مخ
۱۲۸ ـ او خپل شنه کلي پسې چيغې وهم ۹۴ ام مخ
۱۲۹ ـ بس تا نه غواړم چې په سرو شونډو مسکی شې راته ۹۵ ام مخ
۱۳۰ ـ دا دی تر اوسه هم ولاړ يم ننداره د هغې لارې کوم ۹۶ ام مخ
۱۳۱ ـ د کتو ټپ ۹۶ ام مخ
۱۳۲ ـ اوس هم په تمه يو د خوف او د رجا پر پوله ۹۷ ام مخ
۱۳۳ ـ دغه يادونه او آهونه، نه ساتلی نه ويلای شمه ۹۸ ام مخ
۱۳۴ ـ شين قلم ۹۹ ام مخ
۱۳۵ ـ زيری راوړی مې د ژوند، مرگ ته رخصت ورکوم ۹۹ ام مخ
۱۳۶ ـ هغه دنيا دې هم تياره گڼه او سره اوورونه ۱۰۰ ام مخ

۱۳۷ ـ د پـلار هـیـلـه ۱۰۰ ام مخ
۱۳۸ ـ ما مې د ورکې مینې یاد دننه زړه کې ایښی ۱۰۱ ام مخ
۱۳۹ ـ زموږ په منځ کې یو واټن و، دا وو زر نورې کلونه ۱۰۲ ام مخ
۱۴۰ ـ نور خلک، نور قومونه ۱۰۳ ام مخ
۱۴۱ ـ له کاروان وروسته پاتې ۱۰۳ ام مخ
۱۴۲ ـ ښه ده چې ویښ شومه او وخوځېدم ۱۰۴ ام مخ
۱۴۳ ـ یو سړی څو یې مخونه ۱۰۴ ام مخ
۱۴۴ ـ رانغلې، چې رانغلې ۱۰۵ ام مخ
۱۴۵ ـ آیـا ټـول بـایـد حـلال شي؟ ۱۰۶ ام مخ
۱۴۶ ـ د شاعر بیوګرافي ۱۰۷ ام مخ

## موږه زاړه کې بند یو

**خلک خو کال نوی کوي، موږه زاړه کې بند یو**
**نور خلک ستر فکر کوي، موږه واړه کې بند یو**

**حریف مو تود دی، مست روان دی، وړاندې منډې وهي**
**موږ ساړه، فکر مو سوړ دی په ساړه کې بند یو**

۲۰۱۸/۰۱/۰۱
هیدرسلیف
ډنمارک

## او زه وروستی یمه اوس

ما وې چې تول پنځ نه به

یوازې تا راواخلم

خپله به شې

نو زه په دې څه خبر

چې ما نه مخکې

په زرګونو انتظار ولاړ دي

۲۰۱۸/۰۱/۰۸
هیدرسلیف
ډنمارک

## د زړه ټپ

ټپ مې پر زړه دی، په ټـټـر کې نه دی
مطلب بـل چیرې، سیم و زر کې نه دی

زمـا جـانـــان چیـرتـه کـې لـــرې اوسي
په دې هـېـواد په بحـر و بــر کې نه دی

۲۰۱۷/۱۱/۱۲
هیدرسلیف
ډنمارک

## مینه څه ده؟

که څوک دې وپوښتي چې مینه څه ده

د یو ژور احساس لوگي غوندې دی

چې زېږېدو سره سم

پاس مخ په بره درمي

۲۰۱۷/۱۲/۰۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## سبزه هندوه

سبزه هندوه چې هولي کې رنګ شي
ته ورته ناست تر ستوني تير دې بنګ شي

بيا يې که واک لرې نو زړه دې ساته
چې سل يې تاو کړې ترې به تير خدنګ شي

۲۰۱۸/۰۱/۱۲
هيدرسليف
ډنمارک



## له روڼ سهاره تر ماښامه پورې

زما د زړه د خوځیدا په ژبه

ته ولې نه پوهیږې؟

دې خوځیدا کې ستا د مینې ترانې

له روڼ سهاره تر ماښامه پورې

په هر یو پل او هر ساعت غږیږي

۲۰۱۸/۰۱/۲۰
هیدرسلیف
ډنمارک

## نور یې زغملای نه شم!

واټن خو ګورې چې د څو نوري کلونو غوندې

زما و ستا په منځ کې پروت دی، خو زه

ځان لرې نه ګڼمه

د دې واټن د لرېوالي وير مې نه زوروي

خو د واټن درونډ والی غرونو په څير

دير مي، تر ډيرو ځايو وچلاوه

نور دغه بار بل ځای ته وړلای نه شم

نور یې زغملای نه شم!

۲۰۱۸/۰۱/۲۱
هیدرسلیف
ډنمارک

# دغه د ویر، وینو او اوښکو

## ټیکه دار ولې مور؟

کله مې زړه ته داسې ولویږي چې موره به یې
یوازې وینو، اور او ویر ته پیدا کړي یو بس
هره ورځ وینې دي، د اوښکو سیلاو
هره شپه چغې دي د کونډو او زاړه مور و پلار
هره سا ساندې د یتیمو بچو
دغه د ویر، وینو او اوښکو ټیکه مور وهلې؟
که دې نړی کې کوم بل ځوک هم شته دي؟
کله سرې ته ګیله ودریږي
له اوښکو ډکې سترګې واړوي
په چیغو ورته دا ووایي:
مور همدا اوس یو په برزخ کې پراته
موره په دې دنیا دوزخ کې پراته
موره لږ خلاص چورت د جنت ځنې کړه!
موره لږ خلاص له جهالت ځنې کړه!

۲۰۱۸/۰۱/۲۹
هیدرسلیف
ډنمارک

## یوازیتوب او ژمنه

یوازیتوب سره لګیا یمه غږیږمه خو،

ته راپیښیږي په خبرو کې

او ما ته وایي:

ته خو غږیږې،

څه کړې؟

تا خو ویلي و:

په ژمنه دې ښه ټینګ دریږې!

۲۰۱۸/۰۱/۲۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## د لوی دریاب تر څنګه تږی یمه

د خـــزانــو لــه پـــاسه وږی یمه
د لـوی دریـاب تـر څنګه تـږی یمه

لکه تیپي ښکار لـه هر خوا مې ولي
نا پوهي ګیر کــړم، زه هم غلی یمه

۲۰۱۴/۰۶/۱۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# جهالت زمورږ په سر کې ځاله کړې

وخت هماغسې روان دی لکه تل
نه دریږي، که نیمگړی شي که شل

زمانه لکه دایم، بیا نا کردې کړي
ځويم وار په وينو ولړي کابل

جهالت زمورږ په سر کې ځاله کړې
خار په شوندو ښکلوو، رژوو گل

د دې وخت دې ناکردو ته ښه وگوره!
که رستم شي، نه لري يې تحمل

که زر ځلي ورته وايي داسې مه کړه
اور ته مه ځه! دی روان، وايي سنبل

د ويرونو پېټی دومره رادروند شوی
نه به ټينگ شي کوم رستم نه هم عاقل

ټول وطن په وينو سور لړلی گوره
سر تر پښو په وينو رنگ شو هم کاکل

د هر چا له پاره ښه وينا همدا ده
چې تقدير مو دی، عادت مو شو زغمل

۲۰۱۸/۰۱/۲۸
هيدرسليف،
ډنمارک

## په موزيکال ډول مې زړه تپيـږي

زما د زړه درزا سندرې وايي
په موزيکال ډول تپـيږي
يادوي ستا مينه
او لکه شپون په غره کې
پر له پسې د تا د مينې ميلودي غږوي
نوې سا اخلي او په نوې بڼه
تا يادوي، تا ته سندرې وايي
څه کيـږي يو وارې د زړه په غوږو
زما د زړه دې ترانو ته غوږ شي!

۲۰۱۸/۰۲/۲۵
هيدرسليف
ډنمارک

## يمه مرغۍ، خو يو وزر نه لرم

يمه مـرغۍ، خو يـو وزر نـه لرم
راسره شته زړه، خو دلبر نه لرم

گوره چې تمه د بل څه ونه کړې
مينه لـرم، خو سيـم و زر نه لرم

دا بې نيتي، بې پتي

# وخت او زما زړه

وخت په چټکه او په تنده روان
خو زما زړه لړ ورو لړ سترې او غمجن، ورپسې
وخت خو روان دی پرمخ
او نه راګوري شاته
درومي بس درومي، مخ پر وړاندې درومي
داسي روان دی چې سهار او ماښام نه پيژني
د تور او سپين توپير هم نه شته ورته

د ژوند قاموس کي يې ستړيا نه شته، دمه هم نه شته
بس په متـيـنو قدمونو مخ پر وړاندې دورمي
خو زما زړه دا دی لړ سترې ښکاري
او غواړي دمه وکړي
خو دمه ځای پيدا کولای نه شي
دغه وطن، دا چاپيرپال او دغه خلک ټول، ټول
ورته پردي او ليوني ښکاريږي

۲۰۱۱/۰۶/۱۶
هيدرسليف
دنمارک

## زه دا ثواب ګڼمه

مخ دې نالوستی کتاب

چې تـقدس په کې له ورایه ښکاري

مخ دې نالوستی کتاب

ورته کتل او بیا ځلي یې لوستل

د ثوابونو کاروان بیا راولي

زه دا کتاب اړوم

په یو وار نه، په څو، څو ځلي لولم

زه دا ثواب به په زر ځلي ګڼم

۲۰۱۳/۰۸/۰۶
هیدر سلیف
ډنمارک

## دا زموږ خلک چې دي:

سترګې لري، خو څه لیدلای نه شي
غوږونه شته، څه اوریدلای نه شي

ژبه په خوله کې، غږیدلای نه شي
ککرۍ شته فکر کولای نه شي

۲۰۱۴/۰۸/۲۶
هیدرسلیف
ډنمارک

## او موږه ژاړو چې څو

نــــه پـــاتي کـــيږو روانـــيږو او څو
مـــوږ تي لـيـکلي چـي زوريږو او څو

تـقديـر بـــه خنګـه کـړو بـدل چي نـه څو
کـــه هــر څــو واورو، نه پـوهيږو او څو

نــور پــه اورونــو کــي روان نـــه سوزي
مــوږ پــه شنيلي ګـلـزار سوځيـږو او څو

شينکی چمن وي سم چي موږ ورپيښ شو
پــه سره اور اوړي موږ خوځيږو او څو

پــه چيغو، چيغو خـو مي ستونی وشکيد
وايـي ګـړنګ تـــه هـم که لويږو او څو

۲۰۱۴/۰۶/۱۳
هيدرسليف
ډنمارک

## جنتونه، دوزخونه

چې تا وينم، راته ښکاري

د جنت لارې نن خلاصي

نه کوم پُل، نه هم پوښتنه

ور روان تمام عالم وي

چې ناڅاپه ورېځ خوره شي

او ته ورکه، لارې ورکي

نه جنت، نه جنتيان وي

نه هم لار او لارويان وي

هره خوا اور او اورونه

وړاندي وروسته دوزخونه

۲۰۱۵/۱۰/۲۸
هيدرسليف
ډنمارک

# د مینې میلودي

شیبو، ساتونو، ورځو، شپو
میاشتو کلونو وروسته
که بیا مې ووینې،
نو وبه ګورې:
چې ټول بدن کې مې
زړګي کې مې
د زړه کور کې مې
د سرو لاله وو، سره فصلونه ولاړ
او د هر یو لاله له هرې پاڼې
د تا د مینې میلودي جګیږي

۲۰۱۸/۰۳/۰۵
هیدرسلیف
ډنمارک

## د سترګو فرش

ما د زندان ډیرې ورې کړکی نه

رانه راتاو ورې، زرې شرې نه

خپلې دوې ترې سترګې

خپلو هیلو سره

ستا د راتلو

او قدمو ښکالو ته

بهر لیرلي

او فرش کړي مې دي

۲۰۱۸/۰۳/۰۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## خـــو زموږ، ځوان نسل دی پرمخې پروت

دا د چـــا ښـــار دی، د چـــا کلی بـــه وي
څـــومـــره روښانـــه، څومره ښکلی به وي

خـــو زموږ، ځوان نسل دی پرمخې پروت
ښـــوري خـــو نـــه، ښایي چې مـړی بـــه وي

۲۰۱۸/۰۳/۰۲
هیدرسلیف
ډنمارک

# ډار

دا یمه راغلمه،

زه ډار یمه

ناريِ نه وهم

په کرار وایمه

ریښتیا وایمه

زه نن پر تاسو حکومت کومه

مینه چې نه وي، خصومت کومه

*****

د تاسو زړونو کې یو کور لرمه

کور خو لا څه کوئ، تند اور لرمه

تاسو په خپله ما ته کام راکړی

د کام تر څنګه مو مقام راکړی

ښه مې ګالئ، ښه مې پالئ، په نا پوهیو کې ښه

که نه زه چیرې

د اشرف المخلوقات زړه چیرې

زه غلی پروت په ځان خبر نه ومه

تاسو اوهامو نه راویستمه

د خپل وجود واک مو را وسپارلو

د ټول وطن خاک مو را وسپارلو

*****

زه هم په مفته یم راغلی خدا داد واک ته نن

نه یمه ستړی، نه زحمت ګالمه

ما باندې ږدئ کله یو نوم او بل نوم

په ما یو بل ډاروئ

په ناپوهی کې تاسو ما نه قهرمان جوړ کړ

په پټو سترګو مو له مانه ایګو خان جوړ کړ

*****

زه هم په نره دا دی تاسو باندې حکم کوم

تاسو هر یو په دې تیاره کې زما سرتیري یاستئ

له ما نه تاسو قهرمان جوړ کړ

ما نه هم تاسو ایګو خان جوړ کړ

*****

که نه زه سیوری د اوهامو یمه

د پخو نه، فکر د خامو یمه

که د سواد او پوهې لړ شانتې رڼا ښکاره شي

نه کوم یو ډار شته دی

نه هم بادار شته دی

نه ایګو خان شته دی

نه قهرمان شته دی

۲۰۱۴/۰۹/۲۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# زما تصویر د زړه په کور کې کیـږده!

زما تصویر په جیب کې مه گرځوه

خوږ به دې کړي

گورې مې ځیـږ یم

له ازغو نه ډک یم

چیرته یې لرې درنه وغورزوه

هسې هم لارو کې

کوڅو کې

او په خاورو کې عادت یمه زه

که دې پر ما باندې لږ زړه سوزیـږي

زما تصویر د زړه په کور کې کیـږده!

۲۰۱۸/۰۳/۱۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## آ پخواني جنت ته

د حافظې له چیپ مې
هر ساعت ستا یادونه
غاړه را هسکه کړي غږونه کوي
ما زوروي، چې فریادونه کوي
ما خوښوي، چې اوازونه کوي
را یادوي زما د تاندې ځوانۍ، تاند یادونه
راباندې لګي ښه شیرام او وطني بادونه
کله په غلا راګوري،
کله په پټه غږ کړي
په ډېره مینه مې وربولي یو ځل بیا
آ پخواني حالت ته
آ پخواني جنت ته

۲۰۱۸/۰۳/۲۹
کوپنهاګن
ډنمارک

## لمر په لک څک راګوري

چیرې له ګڼ ځنګله لمر سترګه په لک څک راګوري
ما وې چې بیرته راژوندی استاد اڅک راګوري

لمر له اورو، له ځنګلونو او له لرې ځایو
تولو ته یو شان ښه تود پوست، ما ته په شک راګوري

۲۰۱۸/۰۳/۳۱
هیدرسلیف
ډنمارک

# د زړه دیوال باندې مې تت انځور دی

دا ډیر کلونه وشول

د زړه دیوال باندې مې تت انځور دی

زه پرې ښادیږمه زما غمخور دی

دا ډیر کلونه شول چې سترګي سولومه ورته

که لږ روښانه شي

لږ روڼ شي

زما ښاد لږمون شي

خو لا هماغسي تت ښکاري

او یوه غلي خندا ورسره

زه یم خوشاله چې زما د زړه د کور سینګار دی

غمونه ریبي لکه ځان تته رڼا راکوي

له هرې تتې رڼا وروسته

زما زړه ته ښه خوښي

رڼه ځلا راکوي

۲۰۱۸/۰۳/۳۱
هیدرسلیف
ډنمارک

## ډالی ګـــلاب

د زړګـــي دښـتـــه مـــې پـــراخــه ده ومـنـدې تـه دې
زړګـــی مـــې سـور لـکـه د تیک دی بیـا وتړندې دې

په مـنـډو راغـلـي او بـیـا لاړې د زړګـي لـه بـڼ نـه
ډالی ګـــلاب، یــو هم خوږ یاد د زړه وښندې ته دې

۲۰۱۸/۰۳/۳۱
هیدرسلیف
ډنمارک

## د زړه حال

پَر غواړم

وزر غواړم

زړه مي شي دروالوزم

درتو وایم...

۲۰۱۷/۰۹/۰۵
هیدرسلیف
ډنمارک

# ځان په دې سوبمن وبولو،
# چې خپل مړي شهيدان کړو

(په ننګرهار کې يوې ويني تويولو ته)

د ګلونو ښار کې ګوره
چې وحشت دی په کوم حد کې
ګلان څنګ سوزول کيږي؟
پاڼي څنګ رژول کيږي؟
ځوانان څنګ راوژل کيږي؟
زموږ زده دا دري ځيزونه:
چې سر زوړند، لاس ليه، اوښکي کړو تويي
له راکټ او له بمونو
له ځانمرګو واسکټونو
د ژوندون خير وغواړو
ورسره مو دا بل کار هم
د تسپو په کانو شميرو دوه شييونه:
د دښمن د ظلم کاني
په سره اور لمبه ګلپاڼي
ځان په دې سوبمن وبولو:
چې خپل مړي شهيدان کړو
د بل مړي دوزخيان کړو.

۲۰۱۸/۰۵/۱۹
هيدر سليف
ډنمارک

## د زړه کتاب پاڼې
## د سترګو په آیینه کې لولو

کله هم داسې شوي:

ډیر سره ووایو خبرې وکړو

خو په خبرو او په ژبه سره پوه هم نه شو

یو بل ته شا کړو

او سر زوړند

هر، هر یو په خپله مخه ولاړ شو

ډیر ځلې داسې شوي:

چې هیڅ ونه وایو

او غلي سره ودرېږو

مازې په یو کتو کې

د زړه کتاب پاڼې

د سترګو په آیینه کې لولو

۲۰۱۸/۰۵/۲۰
هیدر سلیف
ډنمارک

# د ویر ټیکه یوازې موږ وهلې

**خټه د ویر لمده ده، نه وچیږي**

**نور پرې د پاسه ګرزي،**

**موږ ورته ناست یو قالبونه لاس کې**

**د غم له خښتو نه دیوال جوړوو**

**کلي نه ګردچاپیره**

**دغه دیوال تاوو**

**داسې ښکاریږي چې پر ویر باندې مین یو موږه**

**په دې نړۍ کې بل څوک نه شته**

**او د غم ټیکه راپاتې موږ ته**

**که څوک د مرستې لاس نږدې کړي، ورته وایو:**

**اندیواله خپله مخه کوه**

**د ویر ټیکه یوازې موږ وهلې**

۲۰۱۸/۰۵/۲۱
هیدر سلیف
ډنمارک

## اوبه مې اور شوې راته

له ډېرو پخوا زمانو څخه زموږ لویدیز ګاونډي، زموږ اوبو ته سترګې نیولې دي. یو وخت د زریني مدبرې مشرې په لاربښوونه او د کک پهلوان پر مټ، د دې اوبو ساتنه وشوه او اوس یو ځل بیا د هماغې پخوانۍ زړې سناریو له مخې موږ له خوږ ګوټې نیسي؛ تیل راباندې خرڅوي، خو اوبه مو وړیا او په تهدید سره غواړي او زموږ خلک د دې ناندریو قرباني کیږي.
ما څه موده مخکې، همدې ستونزې ته دغه شعر لیکلی و:

## اوبه مې اور شوې راته

خلک د اور مخ ته ولاړ سوزي نه

خو ما ته،

دغه د خپل کلي اوبه اور شولې

ګورئ وطن مې سیځې

واورئ بدن مې سیځې

ستونې مې وچ، اوبه مې څکلی نه شم

مځکه لرم، غله کرلی نه شم

اوبه مې اور شولې، هر څه مې سیځې

غنم سابه مې سیځې

چینې مې خپلې، غرونه خپل، واورې مې خپلې، خپلې

واک یې د دیو، غږ مې ایستلی نه شم

چا ته ویلی نه شم

خپلو اوبو ته چې ودریږي، زړینه په کار ده

کک پهلوان ته حوصله په کار ده

هر څه به جوړ شي

اوبه، اور به نه وي

د پردي کور به نه وي

۲۰۱۸/۰۵/۲۰
هیدر سلیف
ډنمارک

## يوازې تا غواړمه!

بې له تا لمرنه غواړم،

کوم خير و شر نه غواړم

زه يو تا غواړم،

بل ثمرنه غواړم

کوم خير و شر نه غواړم

۲۰۱۷/۰۵/۰۹
هيدرسليف
ډنمارک

## دغه د اور او وير کيسه به وې تر څو روانه

ګوره چې مينه ژاړي

جګړه خو ستړې

جګړه مار نا ستړي

څه چې وسلې خورې، هغه ستړي

او وسله هم ستړې

خو جګړه مار نا ستړی

دغه د اور او وير کيسه به وې تر څو روانه

مينه څه وکړي؟ مينوَال څه وکړي؟

ارامي پريږده قيل و قال څه وکړي؟

۲۰۱۸/۰۵/۲۲
هيدر سليف
ډنمارک

## ځانته حیران یم چې
## بې مینې ځنګ ژوندی پایمه

په یوه داسې چاپیریال

او یوه داسې زمانه کې چې اوس

یمه راګیر او ګوزاره هم کوم

ځانته حیران یم چې بې مینې ځنګ ژوندی پایمه

کله مې زړه کې تیر شي:

که دې دوه پله هم کولای شولو

بې مینې یې مه جګوه

۲۰۱۸/۰۵/۲۳
هیدر سلیف
دنمارک

## د موسکا پور

ای!

لږ دې پښه ونیسه

څه وایم درته:

یو خوله موسکا پور راکړه

ټینګه وعده سپارمه

چې تر سبا بې درته بیرته راوړم!

۲۰۱۷/۰۵/۲۰
انتالیا
ترکیه

# د تاريخ قضاوت، د هډوکو شهادت

پرېږده د ظلم شپېلۍ وغږيږي
پرېږده ظالم مستې خنداوې وکړي
په قهقه وخاندې او غږ خپل تر عرشونو لوړ کړي
پرېږده چې هېرشي دا وژل د خلکو
اوښکې او وينې تويول له سترگو
پرېږده چې هېر شي بوږبوښکيو کې ويرونه زموږ
دا هر څه شوي دي او کيږي پسې

*****

ځينې بيا وايي چې تاريخ خو شته دی
تاريخ قضا لري، هغې نه څوک خلاصی نه لري
بيا به هډوکي شاهدي ورکوي
ډېر لرې نه و، دا پرون و، پرون
چې د هډوکو پوښ مرميو څنگ را وځنډولو
مځکه خړوبه شوه، مړه په وينو
داسې راډنډ شوې چې کاريز يې جوړ کړ
داسې کاريز و چې شيطان جهاد والا په کې لمبا کوله

*****

بيا به هم وايي چې تاريخ شته قضاوت به کوي

او د مړو شوو وچ هډوکي شهادت ورکوي

دا وژل شوي دي تاريخ ځه کوي

د رټل شوو شهادت څه په کار

له دې تاريخه سره

له شهادت سره هم

د وژل شوو ارواح

هيڅ کار غرض نه لري

اروا به ناستې وي له اوښکو سره

په خپلو وينو به اودس کوي نور

که د پټنګ جهاد والا پېښنه پرې وشوله بيا،

نو به تاريخ او شهادت تکرار وي

۲۰۱۸/۰۵/۲۴
هيدرسليف
ډنمارک

## پور اخیستې خندا

یا خو قسمت یا پېښنو

یا خو هم پوهې نا پوهی

تر دغه ځای رارسولی یمه

زړه مې د ویر ځاله ده

او د ککرې دا گومبزه چې ده

دا د غمونو گودام

شونډې مې وچې

د زړه جیب مې له خوښیو تش دی

تا پسې غږ او تا نه هیله کوم:

د خندا دوې سکې په پور خو راکړه

دا مې وعده ده چې دې پور بیرته دروگرزوم

۲۰۱۷/۰۵/۲۰
انتالیا
ترکیه

## ښکل مې کړې، خو...

زلفې تـــر غـــوږ واړوه
مـینې تـــه شـــا مـــاړوه

ښکل مې کړې مچکه دې
تـــر ږُگـــرې هم لواړه وه

۲۰۱۸/۰۶/۰۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## ځلوريځه

چې کلـه راشـي، کنـډوالي تـــه پـسرلـــي ستنيـږي
د زړه انگړ کې مې وير ورک شي هرکلي ستنيږي

ټـول ناسم، سم شي، ښه خـوا ږه او ښه پر لار بـرابر
نـــا ښکـلـي ورک، پـر ټــولــو لارو گلالي ستنيـږي

۲۰۱۸/۰۵/۳۰
هيدرسليف
ډنمارک

## يوه بې بريده خوښي

## او يو بې ژبی احساس

ستا د فراق حالت ته څه ووايم

د لړيوالي اور دی

د نړدې والي حال دې

يوه بې بريده خوښي

او يو بې ژبی احساس

زه يو بې ژبی احساس

څنگه انځور کړم

تا ته وښايمه؟

۲۰۱۸/۰۵/۳۱
هيدر سليف
ډنمارک

## لړ دې موسکا په مخامخ راتلو کې

### راباندې ولوروه

د خندا لوړه دې پر ما غالبه

د موسکا تنده دې پر ما برلاسي

اوس خپله ووایه چې څه وکړمه؟

خو زما هیله دا ده:

لړ دې موسکا په مخامخ راتلو کې

راباندې ولوروه

۲۰۱۸/۰۵/۳۱
هیدر سلیف
ډنمارک

## ځان ته دې نږدې بولم د ځان په خیر

دومره راته ګرانه یې باران پــه خیر
شمیره یې ته ښاښکي د ایمان په خیر

هـر څو کـه تـه لرې شي او لاړه شي
ځان ته دې نږدې بولم د ځان په خیر

۲۰۱۸/۰۵/۲۸
هیدرسلیف
ډنمارک

## د گلانو زړه کې

سور غلی اور دی د گـلانو زړه کې
آهونـه شـور دی د گـلانـو زړه کې

چا تـه یې نـه وایي په زړه یې ساتي
د غم لوی کور دی د گلانو زړه کې

۲۰۱۸/۰۶/۰۲
هیدرسلیف
ډنمارک

## ته به نو ځه پوه شې،

### د زړه د درزیدا په ژبه

ځه درته وایي دا د زړه درزا مې

ته پرې پوهیږې که نه؟

ما درته حال د زړگي ډیر ویلی

یا ته پوه نه شوې، یا دې پام پـرې نه و

چې یې لیدلی حس کولای نه شې

ته به نو ځه پوه شې، د زړه د درزیدا په ژبه

۲۰۱۸/۰۶/۱۳
هیدرسلبف
ډنمارک

# مات زړه

## (۲)

ځو بې ګنډې، ځو به پيوند ورکوې
د ماتونکو خولو ته خوند ورکوې

ته يې ګنده، پيوندوه يې پسې
زړه ماتې څه، ټولو ته قند ورکوې

ثواب دغه چې مات زړګې رغوې
مينه همدا، ته يې خرګند ورکوې

چې ماتوي يې په کې کرکه شيندي
ته يې ګنډې او ته خورسند ورکوې

هغه چې مات کړ، تر پښو لاندې يې کړ
تې ټولوې، رتبه بلند ورکوې

هغه يې وژني او ژوندون ترې اخلي
خو ته ژوندون په هر يو بند ورکوې

هغوی چې مات کړ جهالت يې خپور کړ
خو ته سبق د دانشمند ورکوې

داسي به نه وي چې به ځای نه نيسي
هره بخيه کې ته لوی پند ورکوې

خود به خوره وي خوله د ټولو مدام
د تريخوبي پر ځای چې قند ورکوې

۲۰۱۸/۰۶/۰۲
هيدرسليف
ډنمارک

# د مېنې کلي کې په مخه راغلې

د مېنې کلي کې په مخه راغلې

ته پټه خوله، زه غلی

موږ ته حیران و کلی

تر خنګ مې تیره شوې تا بنکته کتل

زما د نظر لښکر د تا پر لورې

دغه شیبه په خپله مخه ولاړه

ما غاړه تاو کړه بیا مې تا پسې کتل

ته راکتو کې زړه نازړه روانه

خو چې ګرځنې ته وروړسیدې

لکه پیروته دې ځان تاو راتاو کړ

په راکتو کې دې څه ووې

او پنا دې کړ ځان

۲۰۱۸/۰۶/۰۹
هیدرسلبف
ډنمارک

## تــه ښــه پــوهـیږي طلــبګـار دې یمه

خــومــره پــوروړی، ګنهکار دې یمه
مـلامـت پـریـــږده، شـرمسار دې یمه

وې غـولـوم، کــه ځــان زه تیـر باسمه
ټــول ښه پوهیږي چې زه یار دې یمه

تــا راتــه سل ځـلـي ځـــواب راکړی
نـــا امیـد نـــه یـم، انـتظـار دې یمه

کـــوي انـکـار او راتـــه شـــا اړوي
زړه کې پوهیږي چې یادګـار دې یمه

زه که هر څو د کبر غره ته جګ شم
تــه ښـه پـوهـیږي طلـبګـار دې یمه

کـه هزار ځـلي مي لـه ځـان وشړي
زه یـــي ګنم بـوس و کـنــار دې یمه

۲۰۱۸/۰۶/۱۱
هیدرسلبف
ډنمارک

## «... له زیړو پاڼو ټولې ونې ډکې دینه»

**چې ته نه یې،**

**ما نه ورکې لارې، لوري**

**زه دمه شم په کوم سیوري**

**په هر لوري بیګانه، بیګانګي ده**

**نه یې ژبه نه وفا، خو دوه رنګي ده**

**هر څه شته دي، خو ته نه یې**

**هره سا مې رنګ زردي ده**

**یو ګلاب مې پیدا نه کړ**

**شا و خوا چې پسې ګورم**

**«... له زیړو پاڼو ټولې ونې ډکې دینه»**

۲۰۱۸/۰۶/۱۶
هیدرسلبف
ډنمارک

## ... ته وا له موره دوی ګونګیان پیدا دي

ګوري په رڼو او ښه پوهیږي پرې

مخامخ ولاړ ورته قاتل، ناپوه

دی باید څه ووایي،

خو نې وایي

ځان باندې بندیز او ژبه خوله بنده

ځان سانسوري او بیا څه نه وایي

خپسه د پټې خولې حاکمه ده پرې

داسې یې خولې پټې نیولې دي چې:

ته وا له موره دوی ګونګیان پیدا دي

۲۰۱۷/۰۸/۰۴
هیدرسلبف
ډنمارک

## لمر د وریځو له کړکیو

څه یو زیر مازدیګری و

سمندر ښنده او زه وم

را سره وو ستا یادونه

کړلیچونه او سوچونه

لمر د وریځو له کړکیو

مخه ښه راته ویله

په تلو، تلو کې یې څه ووی

ستا خبره یې را ستایله

۲۰۱۸/۰۶/۱۷
هیدرسلبف
ډنمارک

## رقیب کتو ځنې انکار وکوه!

لــه تا خندا مې سپـمولی نـــه شم
د اوښکو څاڅکي دې لـیدلی نــه شم
غم دې پر خوا درپریښودلی نـــه شم

تـــه مې وفـا بانــدې اِتـبــار وکــوه!
د خـپلي میـنې هــم اقـــراررر وکــوه!
رقیـب کـتـو ځـنـــې انـکــار وکـــوه!

بــیــا بــه پـه پـتـه هم، ښکاره ووایم:

لــه تا خـندا مې سپـمولی نـه شم
د اوښکو څاڅکي دې لـیدلی نـه شم
غم دې پـر خوا در پریښودلی نه شم

۲۰۱۸/۰۶/۲۱
هیدرسلبف
ډنمارک

## په خپله خوښه بیلـتون

**راځه چې بیـا یـو ځـل پــردي شو سره**
**د یـو ربـاب دوه بیل څـونـډې شو سره**

**که چا پخلا نه کړو، نـو بیل بـه اوسو**
**نه به شو خپل، نه به خوندي شو سره**

۲۰۱۸/۰۷/۰۳
هیدرسلبف
ډنمارک

# زما مینې

## (د یوه شعر ازاده ژباړه)

نن (۲۰۱۸/۰۷/۰۵) د نیک تصادف له مخې، په شنه سهار کې زما فیسبوک پاڼې ډېره سندریزه او شاعرانه بڼه درلوده. زما د ځینو لیدلو او نالیدلو فیسبوکي اشنایانو له خوا داسې سندرې، شعرونه او نغمې پُست شوې وې، چې هر ذوق لرونکی انسان تخنولی شي.

د مریم مصور پردېس له خوا د «اې هېواده! اې هېواده!» سندره او د فلوت یوې نغمې، ما ته یو نستالژیک احساس را وبښهٔ.

دغه راز د کابل پوهنتون په ادبیاتو پوهنځي کې زما دانشمند همکار ډاکتر صاحب محب سپین غر، د جیپسي کینګز (GipsyKings) په سحرګر غږ کې  داسې یوه هسپانوي سندر (No volvere[Amor Mio]) را پور کړې او په خپله فیسبوک پاڼه  کې پورته کړې وه چې:

- د جیپسي کینګز (Gipsy Kings) غږ،
- د ویدیو جوړول،
- او په تېره د سندرې شعر، څه لیکلو ته وهڅولم.

په همدې دلیل اړ شوم چې د سندرې د شعر، د فارسي ژباړې له مخې ـ چې د سندرې د ویدیو په ټایټلونو کې راغلې وه ـ د همدې سندرې د شعر یوه ازاده ژباړه وړاندې کړم.

کله مې چې د سندرې په لینک پسې یوټیوب ته سر ورښکاره کړ، د همدې یوې سندرې په لسګونو جلا، جلا ویډیو ګانې په مخه راغلې، له هغې ډلې نه په فارسي ژبې باندې ژباړل شوې دوې جلا، جلا ویډیو ګانې.
په پوره پاملرنې سره مې د همدې یوې سندرې  څو ویډیو ګانې ولیدلې او په پای کې مې شعر له فارسي متن څخه را وژباړه، خو د خپل احساس مساله مې هم په ځینو برخو کې ور دوړولې ده، ځکه مې د «آزاده ژباړه» توري ورسره مل کړي دي.

دا هم د یاد شعر ازاده ژباړه:

## اې زما مینې!

**هیله کوم:**

**له ما نه مه ځه،**

**ما یوازې مه پرېږده!**

**زه شپېبې شمېرم**

**تر څو تا ووینم**

**شپېبې،**

**ساعتونه**

**او لا ورځې، ورځې به سترگې پر لار شم درته**

**سترگې پر لار به شم، ستا د دیدن له پاره**

**هیله کوم:**

**له ما نه مه ځه،**

**ما یوازې مه پرېږده!**

**سترگې پر لار به شم، ستا د لیدلو له پاره**

**د هغې شېبې له پاره چې**

**سترگې مې ستا په سترگو ولگېږي**

**راوگرزه،**

**بېرته راوگرزه!**

*********

**بېرته نه راگرزم**

**بېرته نه راځم**

**زه بېرته نه راگرزم**

**نه غواړم چې بیا یې را په زړه کړم**

**نه غواړم چې بیا یې را په یاد کړم**

**بېرته نه راگرزم**

**بېرته نه راځم!**

*********

**هیله کوم:**

**له ما نه مه ځه،**

**ما یوازې مه پرېږده!**

پای

۲۰۱۸/۰۷/۰۵
هیدرسلبف
ډنمارک

## غلی خپل شور کې مې

### بیا وسوزوه

**د مـــیـنـي اور کـي مــې بــیـا وسوزوه**
**نـنـه خپـل کـور کې مـې بیـا وسوزوه**

**خپله مې کړي، پر خپل ځان باندې دي**
**غلی خپـل شـور کې مې بیا وسوزوه**

۲۰۱۸/۰۷/۰۵
هیدرسلبف
ډنمارک

## زه یې اټکل کومه

### چې دغه توري لړ دي

وبه وایم چې راته ګرانه یې ته

همدا به نور هم بیا ځلي وواییې

زه یې ګڼم،

زه یې اټکل کومه

چې دغه توري لړ دي

دا خو یوازې ستا د سترګو د په ځنګ راکتو

د یوې لنډې شیبې

پور پرې کولای نه شي

۲۰۱۸/۰۷/۰۵
هیدرسلبف
ډنمارک

## او رژیدلي ارمانونه وو بس

زما و ستا د ناستې ځای کې يو څو زیړې پاڼې

څو اسویلي، څو ارمانونه پاتې

شاوخوا مې ډیر وکتل

ته نه وې، بل څوک نه و

یوازې زیړې پاڼې

او رژیدلي ارمانونه وو بس

۲۰۱۸/۰۷/۰۶
هیدرسلبف
ډنمارک

## خو مه کړه راشه،
## چې روان شو پر دې زیړو پاڼو

ته وایي نه، زه وایم و

کله مو شا، کله مو مخ يو بل ته

زمان روان دی نه دریږي

که یې غواړې، که نه

خو مه کړه راشه

لاس په لاس شو

او روان شو پر دې زیړو پاڼو

لاره بدله کړو بیلوالي سره

۲۰۱۸/۰۷/۰۶
هیدرسلبف
ډنمارک

## راشه!
## چې سترګې مې له مځکې نه راټولې کړمه

دا څو لوېدلي زېـړې پاڼي ګورې

داسې مې سترګې دي لوېدلي درپسې

راشه چې سترګې مې له مځکې نه راټولې کړمه

۲۰۱۸/۰۷/۰۶
هيدرسلبف
ډنمارک

## لړه موسکا دې راډالۍ کړه چې ډېـر تږی يمه

لړه موسکا دې راډالۍ کړه چې ډېـر تږی يمه

قهر مې ډېـر، زجر مې ډير ليدلی

لږ نه،

ډېـر مينې ته يم تږی، تږی

سترګې خندا لـټـوي

زړه مې موسکا لـټـوي

۲۰۱۸/۰۷/۰۷
هيدرسلبف
ډنمارک

## هغه د لاس نښه دې

وروسته له ډېرې مودې

ایله اوس پوه شومه زه

په لاس راتلای خو نه شې

اوس بل څه نه غواړمه

که یې کولای شې راویې لېږه

هغه د لاس نښه دې

۲۰۱۸/۰۷/۰۷
هیدرسلبف
ډنمارک

## کار له کار تیر دی،
### مار راغلی دی لستوني ته مې

زه یرغمل یمه، درتلای نه شمه کلي ته مې
سترګې مې بندې دي، کتی نه شمه څلي ته مې

اوس رانه هیڅ نه شي، نور غشی له کمانه وتی
کار له کار تیر دی، مار راغلی دی لستوني ته مې

۲۰۱۸/۰۷/۱۲
هیدرسلبف
ډنمارک

## د زلفو اتڼ

لاندې دې ګوتې هنرمنې څه سازونه کوي
پاس دې ویښتان ناڅي هر تار یې اتڼونه کوي

زه درته ناست یم هک حیران، ستا ننداره کومه
ساز دې څپې، څڼې دې ورېځې بارانونه کوي

۲۰۱۸/۰۷/۱۵
هیدرسلبف
ډنمارک

## له اوږدو لارو، ژور تل نه بیا ډاریږې ولې؟

مینه کوه، مینه کوه،

ځو یې کولای شې ته

خو ښه په یاد ولره:

د سمندر د ژور تل په څېر، که مینه غواړې

له اوږدو لارو، ژور تل نه بیا ډاریږې ولې؟

۲۰۱۸/۰۷/۱۶
هیدرسلبف
ډنمارک

## مینه او تار لرمه

نه لرم نور څه، مینه و تار لرمه
یــوازې مــیــنـې سره کـــار لرمه

ګدا خـو نـه یمـه شتمن یمـه زه
ټـپـه لـــرم او یـــکـــه زار لـــرمه

۲۰۱۸/۰۷/۲۹
هیدرسلبف
ډنمارک

## د پنځ په هکله

### او د خدای په باب چورتونه وهم

زه نور تاند نه یمه

یو وچ لرګی یم

ما له خپل ځان نه

خپل وجود جوړ کړی

دغه دی ناست یم لاس تر زنې

د سوچو څپو کې

د پنځ په هکله

او د خدای په باب چورتونه وهم

۲۰۱۸/۰۷/۲۹
هیدرسلبف
ډنمارک

## ملا دوزخ، عاصي جنت يادوي

مخ کې لوی ور پرانستی

ملا دوزخ،

عاصي جنت يادوي

ګوره چې کوم يو به ګټونکی شي نو

۲۰۱۸/۰۷/۲۹
هيدرسلبف
ډنمارک

## ستا د وصال سل زر غږونه راتلل

ما خو څه نه ويل،

خندل مې درته

زړه مې په سل ځای کې سوری و

او له هر سوري نه

ستا د وصال سل زر غږونه راتلل

۲۰۱۸/۰۷/۲۹
هيدرسلبف
ډنمارک

# یـو وار نــه، بـد تېول مکـرر پېښوي

ښار اور اخیستی، دود یې لمر پېښوي
لــکــه ظــالــم، ظـلـم، ضـرر پېښوي

عمـل د ښـه او دود د مـیـنې کـوي
یــو وار نــه، بــد تېول مکـرر پېښوي

۲۰۱۸/۰۷/۲۹
هیدرسلبف
ډنمارک



د غزني د جګړې اور مې د زړه کور رالمبه کړ. د هغو لمبو له لوګو نه دا درې ټوټې شعرونه رسم شول:

## غـزني

**پــه وینــو سـور، پــه اور سیــزلی، کلـی چا لـیدلی؟**

**چـــا کـــه لـیدلی دی کـــه نـــه دی، دا دی مـــا لـیدلی**

**چیرې چې ژوند هلته ګناه وي، خلک مرګ پسې ګرزي**

**تــه خــو منـکر یې، زه پــوهــیږمــه چـې تــا لـیدلی**

۲۰۱۸/۰۸/۱۲
هیدرسلبف
ډنمارک

## خدمتګار قصابان

زه د غزني یو اوسېدونکی یمه

له هغه کلي نه راغلی یمه

چیرې چې غوښې د انسان دي د شلغمو په تول

او د ژوند هره سا، زحمت د قیامت

زموږ کلیوال له دغو غوښو او زحمت نه ستړي شوي دي نور

خو قصابان چړې تر ملا له بېلونو سره

ګرزي را ګرزي په سرو وینو رنګ کوڅو کې زموږ

دغه یوه جمله په بیا، بیا وایي:

د چا زړه کیږي چې زحمت نه خلاص شي

موږ به یې «خدای په جات» دا کار ور وکړو

۲۰۱۸/۰۸/۱۲
هیدرسلبف
ډنمارک

# سوي غـزنـي ځنې د وينو بوی ځي

زه ښار ته ځمه

خامخا ورځمه

خو اوازه داسې ده:

يـو سوزيدلي ښار نه غړ راوزي

هټيوال چيغې وهي

زه ښار ته نه ځم

زموږ ښار سوی دی

زموږ له ښاره ځنې بوی لگيـږي

زموږ د ښار هرې کوڅې

او هر گرځنې څخه

د سوو غوښو

او تازه وينو بويونه راځي.

خو زه ورځمه

خامخا به ورځم

۲۰۱۸/۰۸/۱۵
هيدرسلبف
ډنمارک

## سترگې هندوې او ادا هندوې

ســتــرکــې هــنــدوې او ادا هــنـدوې
را خـو بـه نـه شي، دي جـدا هندوې

ما وې چې خپلې به شي، ونه شولې
لــرې دي، نــه شولې پــخــلا هندوې

۲۰۱۸/۰۷/۲۹
هیدرسلبف
ډنمارک

## ... كه كوم څوک د ثواب لټه كوي

له سين نه پورې كلي اور اخيستى

چې د كوم سوي «آه» تاثير دى

كه كوم څوک د ثواب لټه كوي

۲۰۱۸/۰۸/۱۳
هیدرسلبف
ډنمارک

## ختیځه مینه

سترګې سکاره

کاږه بانه

په غلا کاته

خوږه موسکا

يوه ادا

تينګه وفا

د ختيځ مينه کې دا

د مينې اصل

سره وصل

نيکمرغي وګنه

۲۰۱۸/۰۸/۱۶
هيدرسليف
ډنمارک

## نه يې شړلی شمه،

### نه يې زغملی شمه

د ځنګله منځ کې يو تور واټ
لکه يو تور ښامار چې اوږد وي روان
داسي اوږد وير د افغان
چې د پای ټکی يې مالوم هم نه دی
ښامار به لاړ شي، يا به مړ يا به پناه شي چېری
د افغان وير به څه کړم
چې دا ځلويښت کاله مې زړه باندې بار
او دا ځلويښت پيړی مې روح باندې پروت
نه يې شړلی شمه
نه يې زغملی شمه

۲۰۱۸/۰۸/۲۱
هيدرسليف
ډنمارک

## وینه،
## زه او ته

زه څاڅکی وینه لیدای نه شم
گبنی مي اخلي، ریږدم ورته
تې تویدو باندې مین یې
او سیلاو یې غواړې
زه یې چې څاڅکی وینم
څو شپې بې خوبه شمه
تې چې ویالې رواني نه کړې
کله خوب درځي

۲۰۱۸/۰۸/۱۴
هیدرسلیف
ډنمارک

## لاس ته که رانغلې،

## نو مړ مې بوله

څـه فاصلې، څــه زلــزلې راغــلې
څـــه رنــگـــارنــگـه قــافـــلې راغــلې

څـــه واټـنـونـــه د زمـــان چــې نــه و
ستا خــو شتـوالـی زمــا مکان کې نــه و

راغـلې دې رابـــه شي نـــور هـــم پسې
له ویــر نــه ډک کلی بیا کــور هـــم پسې

وصـــل دې غـــواړمــه، درځـــم درپسې
منډه پـر ځای ده، اوس غـورځم درپسې

نه دې په ویر نه دې خوښي کې پـریـږدم
نه هـوښیاری، نه دې مستي کې پـریـږدم

کــه مـــې تـــه رانــوستې، پـړ مـې بــوله
لاس تــه کــه رانغلې، نو مـړ مې بــوله

۲۰۱۸/۰۸/۱۱
هیدرسلیف
ډنمارک

## دا دی روان یمه بې سره،
## سر مې لاس کې خاندم

دغه دی لاړم، درنه لاړم

که يي مني او که نه!

سر مې دی لاس کې، یم بې سره روان

*****

تا په پیغور، سترگو کې ما ته ووې:

چې زه په مینه کې سرباز یمه

او سر بایلمه

یوه لښکر د پېغور چغې کړلې:

چې زه رک روغ یمه او سر لرمه

*****

ما ناڅاپي مخه په بله کړله

دا دی روان یمه بې سره

سر مې لاس کې خاندم

۲۰۱۸/۰۸/۰۹
هیدرسلیف
ډنمارک

## د خپل نعمت باران دې بند کړ ولې؟

د مینې کلي کې په مخه راغلي

ودې خندل

ما په خندا، ستا د خندا باران ته

خو بنه راغلاست ویلي

تا د پلو په پیڅکه

د خپل نعمت باران بند کړی و بیا

۲۰۱۸/۰۸/۲۵
هیدرسلیف
ډنمارک

## څلوریزه

مـا خـو ګنل چې نور هم ورانه شوله
ویـــر راسره، خـوښي روانــه شوله

اوس ورته ناست د غم دانې شمیرمه
کــلــه چــې ورانـــه دا ودانـــه شـوله

۲۰۱۸/۰۸/۱۸
هیدرسلیف
ډنمارک

## دې نه ډاریـږم،
## چې دې هجر کې رنګ زیـړی نه شم

بل کال هم واوښت

ته رانغلې

زه يې وينمه چې:

د نه راتګ وير ته دې:

پنځ هم ژړېـږي

هم زيـړيـږي

او د هغې ونې

چې زه او ته ورلاندې ناست وو

او په سترګو کې مو

ښه د زړه خواله کړله؛

څانګې هم ريـږدي او بچيان رژوي

زه هره ورځ دلته راځم

ورلاندې ګرځمه او تا لټوم

زه وفـا دار، خو چې دې سترګـو کې ناغيـړی نه شم
دې نه ډاريږم چې دې هجر کې رنګ زيـړی نه شم

۲۰۱۸/۰۹/۱۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## خو زه دې اوس هم
## د خندا او مینې لارې څارم

آسمان په خپو رنګه سور شین او تور شو
له ورايه ښکاري چې د تا د قهر نښې دي څرګندې پکې
خو زه دې اوس هم د خندا او مینې لارې څارم
ګوره چې قهر د رقيب
مینه خندا زما شي

۲۰۱۸/۱۰/۰۲
هيدرسليف
ډنمارک

## زړه دې ښه ډک
## د سترګو غولی دې لوند

يوه شوم تګونکې شولې
د تګ شيبه کې ژړغونکې شولې
زړه دې ښه ډک
د سترګو غولی دې لوند
پاس دې و نه کتلې
د سفر خوری دې پر شا کړ راغلې ما ته چې ځم
ما غوښتل سترګو کې درتووايمه
خو، له ويلو مخکې
زما له سترګو څو پښيمان سرتيري
ستا قدمو ته په سجده پريوتل

۲۰۱۸/۰۸/۲۵
هيدرسليف
ډنمارک

## او زه ګونګې خوله پټه
### (د مور مړينې ته مې)

ټوله هستي

ټوله خوښي

ټوله مادي او معنوي تکیه مې

د تورو خاورو بلا وخوړله

او زه ګونګې خوله پټه

پـــه رنـــو ګــــورم څـــه کـــولای نه شم
څه کړل پر ځای، غبر لا ایستلای نه شم

۲۰۱۸/۱۰/۰۶
هامبورګ
جرمني

## ستا د نه شتون د ویر شېبې شمیرمه

## (د مور جانې په نه شتون کې)

لاړې او وې دې چې زه ویر ونکړم

ما هم خندل

او د خندا څپو کې

ستا د نه شتون شېبو کې

د ویر څو غرونه مخامخ راروان

زما د زړه کلي کې یې واړول

نه تلونکي میلمانه شول راته

بیرته را یاد شول چې:

ویرمن یمه،

غمجن یمه،

د ویر پیتی لرمه

پر خپل سر، خپلو اوږو او پر خپل زړه باندې مې

بیا ځلې، ځالې ته راستون شومه

د ویر له درانه پیټي سره

اوس ورته ناست یمه

حیرانه ننداره یې کوم

ستا د نه شتون د ویر شیبې شمیرمه

۲۰۱۸/۱۰/۱۸
هیدرسلیف
ډنمارک

# ته خیالیګره وې، له خیاله ډکه

زموږ په کلي کې نرۍ لاره د غره پر لوري
ته پرې روانه له جماله ډکه
ته خیالیګره وې، له خیاله ډکه
تا چې نه پاس کتل نه لاندې
قدمونو ته دې پام هم نه و
دا دې هم نه لیدل، هر پل لاندې دې
زما د بنو سرتیري،
له وینو ډک زړګی مې
ستا د هر پل چوپړ ته
لاس په نامه ولاړ دي

۲۰۱۸/۱۱/۰۲
هیدرسلیف
ډنمارک

## لار مې اوږده مخکې ده

عمر به څومره وي خو لاره مې اوږده مخکې ده
ځینې لا وایې چې تیندکي او سجده مخکې ده

اوس خوځیدلی یم، روان به یم چې چېرته رسم
کاڼي ازغي هم شته، ځان ګورم آئنه مخکې ده

۲۰۱۸/۱۱/۰۸
هیدرسلیف
ډنمارک

## کله چې ورغلم، ورتوبه وایم

کله چې ورغلم، ورتوبه وایم

چې لاندې مځکه کې دي

هغه موجود چې تا اشرف المخلوقات بللی

هلته سور اور بل کړی

ستا د رسول، ستا د کتاب او بیا د تا په نامه

هغه کوي چې تا ویلي نه دي

۲۰۱۸/۱۱/۲۲
هېدرسلیف
ډنمارک

# پاتې سلام، پاتې کلام

د لمر زرينو وړانګو
د وريځو زړه کړ ځيرې
د لوڅو ونو، ګڼو ځانګو، ګڼه ګوڼې ځینې
زما پر لوري سرې راماتې شولې
را رسيدو سره يې غلې ووې:
تا ته سلام لرمه
او يو کلام لرمه
ستاسو له کلي نه د چا يو ښه پيام لرمه
ما خپلې سترګې او غوږونه چې څو
راسمول هغه سلام کلام ته
بيا د لمر مخه تورو وريځو ډبه کړې وه نور

۲۰۱۸/۱۱/۱۴
هيدرسليف
ډنمارک

## مورې مننه چې ویده دې کړمه!

بېگاه مې خوب لیده ماشوم یمه او مور غواړمه

ږلی باران، لار رانه ورکه وه او کور غواړمه

بېگاه په خوب کې وم جگ شوی

روان شوی وم په بله باندې

سر مې په وره و لگېدلی، هېڅ پوه شوی نه وم

بیا مې مور، مور ویلې وو

چا ځملولی وم، ښه درونډ ویده وم

سهار چې ویښ شوم

تر برستنې لاندې ورو مې ووې:

مورې مننه چې ویده دې کړمه!

چا غږ ونه کړ

چې کتل مې نه وه

په بیره پوه شوم چې ماشوم نه یم او مور هم نشته

مور ډېره، ډېره لرې، لرې رانه تللې وه نور

۲۰۱۸/۱۱/۲۰
هېدرسلیف
ډنمارک



## څه ښه يو درمند؟

### ښه بڼ؟

کرکه مو وکرله

د کرکې درمند مو تيار

په هر کاله کې پروت دی

توري ټوپک مو بزغلي کړل

اوس يې بڼ ښه په حاصل راغلی

تلې په لاس د کرکې درمند تلو

د ټوپک توري د بڼ

حاصل مو هره ورځ په منډه هديرې ته وروړو

۲۰۱۸/۱۱/۲۰
هيدرسليف
ډنمارک

## لوګي

هلته لوګي دی د انسان د غوښو

خو دا خوا خلک؟ خلک؟

په خپله مخه روان

څوک د پوښتنې نه شته

څوک تش ورګوري هم نه

مور داسې کلې کې يو

چې څوک تش ښوري هم نه

۲۰۱۸/۱۱/۰۷
هيدرسليف
ډنمارک

## لمبې د مينې میلودي غـږوي

کنګل وهلی، یخ نیولی یمه

کنګل، یرغل مې پـر هر څه کړی دی

خو ما د زړه په کنډواله کې

ستا د مينې نغـری تود ساتلی

له دې نغـري څخه سرې لمبې راوزي

لمبو څخه ستا د مينې غـږ اورمه

لمبې د مينې میلودي غـږوي

۲۰۱۸/۱۲/۱۲
هېدرسليف
ډنمارک

## کرکه، مینه

هر پل، هر چېرې ده مینه

که يې وغواړې چې وینه

کرکه هم بیا لرې نه ده

شته د باندې، هم په خونه

لار د مينې ګوره بنه ده

مخ دې تور د کرکې شینه

کرکه اور ده سوزوي دې

مینه تاند ژوند غوړوینه

۲۰۱۸/۱۲/۱۳
هېدرسليف
ډنمارک

## خپل زړې به شیندم،

### کروندې هم نغدې وترې دي

مینه هر څه اوري،

خو کرکې ده نیولې دا یوه تینګه:

خپل زړې به شیندم،

کروندې هم نغدې وترې دي

ګوره یې حاصل ته په شیبه تیار

۲۰۱۸/۱۲/۱۳
هېدرسلیف
ډنمارک

## بلا او جولا

مـا خـو لا پـریـږده، چې تـول کلی مـو بـلا نیولی
نـا پـوهي څـومـره؟ پـام د رحـم هـم مـولا نـیـولی

هر څه چې دي، خپله مو کړي، له بل چا څـه ګیله
هـر څه شول نـوي، زمـوږ سـر تار د جولا نیولی

۲۰۱۸/۱۲/۲۲
هېدرسلیف
ډنمارک

## ایله مې تا سره شي تنده ماته

داسي چاینکه مې راوړې
چې ټول ښار ته ورکولای شي چای
کوم تږی شته
تاسو ورغبر کړئ کنه!
راسره کیني او پیني وغځوي
بیا راتهووایي: راوایېچوه
ډېر یمه ستړی
ورسره هم تږی
ایله مې تا سره شي تنده ماته

۲۰۱۸/۱۲/۲۲
هېدرسلیف
ډنمارک

## پــلار

ځان به نیمګړی کـړم، چې تـه بشپـړ شې
لــږ نــه کــره، پــوره او ښــه بشــپړ شې

ځــان بــه د نــن سبا په منځ کې پُـل کړم
تن دې، ماغزه دې، په هر څه بشپـړ شې

۲۰۱۸/۱۲/۲۲
هېدرسلیف
ډنمارک

## د پانریژ مېلودي

هر څه ارام او غلي

له یو خواړه پانریژ موزیکه سره

بې کش و کړپه خپله مخه نیسي

پاڼې له څانګو سره

یوې خوږې مېلودي لړ کې

جلا کېږي دواړه وايي:

«د خدای ښه دي،»

بیا به ګورو سره

۲۰۱۸/۱۲/۱۵
هیدرسلیف
ډنمارک

## لمر، سر او سمندر

تــورو اورو لــمــر وخـوړ
پــوچ فـکـر یـو سر وخـوړ

ټول خوشال سراب ته وي
تــنــدې ســمــنــدر وخـوړ

۲۰۱۸/۱۲/۰۴
هیدرسلیف
ډنمارک

## د ویرونو میلمستیا

پانو آرامه

په څو رنګ

ونې ته ورو ـ ورو مخه ښه وويل

ونه لغړه غلې ودرېده

خو زما د زړه کلي کې

په هره میاشت او په څلور فصلو کې

په هر يو رګ کې يې ویرونه میلمه

۲۰۱۸/۱۲/۰۷
هېدرسليف
ډنمارک

## ویرونه زانګي پکې

يو زه يم، زه

چې ژمی، اوړی، منی

او پسرلي سره هم

زما د زړه له څانګو

غمونه لرې نه ځي

ویرونه زانګي پکې

۲۰۱۸/۱۲/۰۷
هېدرسليف
ډنمارک

## دروند په خوب ویده پښتون

کـور یـې لــه باروتـو جـوړ، یـو سپـخنکی بس ورته
بـله غوړګه نه غـواړي، راوړئ یـو ووړ خـس ورته

پروت د ناوپوهۍ جال کې، ویر یې تل په بـرخه دی
څوک بـیکاره چېـرته دي، مات کړي دا قفس ورته

۲۰۱۹/۰۱/۰۱
هېدرسلیف
ډنمارک

## شین سهار

مـیـنــه ده، تــازه هــوا او زانــې دي
زړه کې مې ډیـر څه دي او ممـانې دي

خـلک او وطـن مې پـه تـیـارو کې ډوب
زړه باندې مې غرونه، غرونه کانې دي

۲۰۱۹/۰۱/۰۲
هېدرسلیف
ډنمارک

## اروپايي همځولې

آخ چې تــه زما، زمــوږ وای شـربت ګلې!
روح دې وسهَ، هــډ دې وسهَ، غُـربــت ګلې

دواړه سـترګي دې د دوه عـالـم کيسي کړي
ژوند دې ټول تېر په وسواس او هيـبت، ګلې

۲۰۱۹/۰۱/۰۸
هېدرسليف
ډنمارک

## ښاروال او بڼوال

زړه به درته ښار کړمه، ښاروال به شي
ګــوره ميـنــه ګــوره، مــالامــال بــه شي

تـــه مـي د زړه ور پــرانـيـزه وګــوره
هــره خــوا د ميـنـي ګل، بڼوال به شي

۲۰۱۹/۰۱/۰۷
هېدرسليف
ډنمارک

## زبون وهلي

څو کاله کېږي

ترېدلي زمورِ د کلي د خوښیو رمه

ربه! را ټوله او راپنډه یې کړې

چې ماشومان زبون وهلي دي

یوه خوږه موسکا غواړي

۲۰۱۹/۰۱/۱۶
هېدرسلیف
ډنمارک

## چې مې د کلي لـوړ کـمرهَ

## بانـدې نـظر ولګېد

چې مې د کلي لـوړ کـمرهَ بانـدې نـظر ولګېد
پر ټول وجود مې په یـو ځلي بیا خطر ولګېد

تا تې زړن وایـمـه، بـل ته یې ویـلای نـه شم
چې دې بیا وکتل په زړه مې یو خنجر ولګېد

۲۰۱۹/۰۱/۱۹
هېدرسلیف
ډنمارک

## دا چې په بند کې یم،
### غرېږم کنه!

**دا چې په بند کې یم، غرېږم کنه!**
**لـه ټـپـو ډک یـم، نــه رغېږم کنه**

**د نا پوهۍ او وینو ډنډ کې ډوب دي**
**خلک چې ګورم خود ژړېږم کنه**

۲۰۱۹/۰۱/۲۷
هېدرسلیف
ډنمارک

## د زړه ټوټې دي وې شمېرلې ان تر زرو پورې

چېرته، چېرته لاړم ستا په لټه پسې

نه هلته، نه لار کې او نه دلته وې

سترې، ورې، تږې

د زړه کورته چې راستون شومه

وې ښه ارامه د زړه کور کې ناسته

د زړه ټوټې دي وې شمېرلې ان تر زرو پورې

۲۰۱۹/۰۱/۲۷
هېدرسلیف
ډنمارک

# اوښکې

تـول عمـر د ويـر وې، دا د ويـر نه دي
اوس د خــوشـالـۍ دي، د تــدبيـر نه دي

چـا وې څـوک بـه وايـي مخ يـې ونـيسه
نـيشـم درولای، دا د ګـــيـــر نـــــه دي

چـــا وې: دا قسمت دی کـــه تمثيل کوې؟
خـپلـه دي راغــلـې، د تـقـديـر نـــه دي

هر څاڅکی يې روڼ دی او سپيڅلی دی
دا د پـښـيـمـانـــۍ او د تــقـصير نه دي

تـــا کـلــه د غـــره چـينــه لــيـدلي ده؟
خـپـلـه وي رنـــه، دا کـار د ځـير نه دي

اوښـکـې لـــه تـلـخـونـو خپله سر باسي
دغــه دوعـاګـانـې د کـــوم پـيـر نه دي

هسې د خپل زړه ـ ذهن پرې سود کوم
هـيـڅ نـه او پـه تـمـه د سـريـر نـــه دي

يـو نـازک د مـيـنـې تـار يـې بـند کاندي
بند وي ډيـر په مينه، په ځنځير نه دي

۲۰۱۹/۰۲/۱۲
هېدرسليف
ډنمارک

## «دنګ دې وي، لونګ دې وي!»

نه ځم درنه نه ځم، که مې سر لاړ شي
ته دې اوښکې پاکې کړه، بیا وخانده
زه دې دواړو سترګو
او یوې خبرې تم کړمه
هر څه رانه پاتې، ښه یې کم کړمه
داسې یې ځایې کړم لکه غر د پورې کلي مو
پاتې به یم سترګو ته
هغې ستا خبرې ته
لارې د ګودر کې دې چې ووې خپلې سیالې ته:
غواړمه هماغه او اوس بیا وایم
«دنګ دې وي، لونګ دې وي!»

۲۰۱۹/۰۱/۱۸
هیدرسلیف
ډنمارک

## زړه کې
## وطن کې
## او په هر ځای کې شنيلی به شي بيا

زړه مي تود نه دی، سوړ دی
داسي سوړ شوی له يخونو، له دردونو او ويرونو ځني
لکه چې مځکه، هوا، ونې ټول کنگل وي
او بل څه نه شته وي
ته خو لا څه کوې چې،
هسې تش خيال دې چې ميلمه شي زړه کې
نو مې رگوو کې توده وينه بڼه په منده شي بيا
او کــه تــه خپـلـه يــو ځل راشې، پسـرلی به شي بيا
زړه کې وطن کې او په هر ځای کې شنيلی به شي بيا

۲۰۱۹/۰۲/۰۵
هېدرسليف
ډنمارک

# زمـا د خـوښې ګـلالی افغانستان جوړ کړي

هغه دی ښار او کلی دواړه په تیارو کې ډوب دي
کوم ایګو خان او کوم اوه سری ښامار
پر پلازونو باندې ناست دی حکومت پرې کوي
او «شالیلی» په کنډواله کې«ګریوان څیری» ناسته

*****

خلک دا وايي:
«لاروی» په کومې «سمڅې» کې ورک
لاره یې ورکه ده
رڼا هم لرې چېرې تته سوځې

*****

خو زه یې وینم زمانه بله او زیری بل دی
څوک راغی وايي:
چې ډېر ژر به لاروی بیــا راروان شي
جـګـړه پیـل او مغلوب به ایګو خان شي
د ښـامار دا زوړ طلسم بـه هـم وران شي

*****

بیا نو امید دی خلک:
د ښار او کلي کنډوالو نه ګلستان جوړ کړي
زمـا د خـوښې ګـلالی افغانستان جوړ کړي

۲۰۱۹/۰۲/۰۸
هېدرسلیف
ډنمارک

## فکر کې ته او په هنداره کې ته

لاره کې ته، زړه کې ته

فکر کې ته او په هنداره کې ته

هر چیرې ته

خو بس یوازې ته له ما سره نه

راځه دا ټول پرېږده له ماسره شه

خدای هم دا غواړي، خپل مولا سره شه

۲۰۱۹/۰۲/۱۹
هېدرسليف
ډنمارک

## نور ډاډه شوی وم چې بیا نه راځې

نور ډاډه شوی وم چې بیا نه راځې

په ټول ځنګله کې مې د تا په یاد ګلان وکرل

قسم دی سپـین تخم و

په مودو کېناستم چې سر اوباسي

بیرته راټلو زیری کیشکرې راوړ

ستا د راتګ په ورځې

د هرکلي په پار ځنګله ته لاړم

چې مې کتل ځنګل تک سور و

سرو ګلانو ستا راتګ ته درناوی کولو

۲۰۱۹/۰۲/۲۰
هېدرسليف
ډنمارک

## سم نـيـغ روان ومه،
### پـه ملا کې پـه دوه قات شومه زه

بـيا دې په کـلي زه درپـېـښ شـومه، بـيا مات شومه زه
سم نـيغ روان ومـه، پـه ملا کې پـه دوه قات شومه زه

د ویـر تـوفـان کـې مې بـدن او روان ډوب تـر ستوني
دوې سترګې ستا وې چې ورګډ بیا پـه حیات شومه زه

۲۰۱۹/۰۲/۲۳
هېدرسليف
ډنمارک

## څلوریزه

اس راتـه ملاست دی، جګېدای نه شي نور
بخت مې هم چو دی، خوځېدای نه شي نور

دوښمـن چې هـر څـه کـوي، ودې يې کړي
مـينه رګ، رګ کې ورکـېـدای نه شي نـور

۲۰۱۹/۰۳/۰۳
هېدرسليف
ډنمارک

## تود اورتون

### (د فــرخـنـدې ځـلـورم تـلـين)

آ دي لمبې دي

سرې لمبې دي

بيا تاوېږي چا نه

گوره چې كوم مظلوم وجود به

د كوم چا په فتوا

بيا د اورتون ميلمه وي

نه! نه!

سږ يې ځوک ونه موندل

چې خپل اورتون ته،

ميلمستون ته يې ورننباسي

دا هماغه ده، فرخنده ده

او لمبو كې يې اروا سوځېږي

۲۰۱۸/۰۸/۱۴
هيدرسليف
ډنمارک

## بیا مې یادېږي د یارۍ هغه د پیل شېبې

بیا مې په زړه ذهن کې، ستا مینه وزرې وهي

بیا مې یادېږي د یارۍ هغه د پیل شېبې

داسې چې ژړنې او جلکې

په کلیوال انداز یو بل وګوري

داسې مې زړه ودرزېږي

بیا مې د زړه درزا ښه تېزه شوله

۲۰۱۹/۰۳/۱۰
هېدرسلیف
ډنمارک

## نن زه کېنمه،
### نن مې خپله حافظه ګورمه

بیا مې د خپلې حافظې کتاب له سره لولم

که د تا نوم او د تا یاد مخې ته راغی چېرې

نو به یې وتوږم او ایسته به یې وغورځوم

ما دغه کار وکړ خوشاله شومه

خو په دې وروسته پوه شوم

چې تورل شوې واوره

بیا په اوبو بدلېږي

او ستا یادونه چې دي

لکه اوبه داسې دي

زما د وچې حافظې بیدیا یې شنه ساتلې

۲۰۱۹/۰۳/۱۱
هېدرسلیف
ډنمارک

## ستا د نه شتون شیبه کې

ستا د نه شتون شیبه کې
ستا د نه شتون ساعت کې
ستا د نه شتون ورځ شپه کې
ستا د نه شتون په میاشت و کال عمر کې
څه ووایم، څه وشول
ته خو مې زړه ته یو وار سر ښکاره کړه
ته هلته وګوره چې څه پېښ شوي
داسې ورانی چې په کابل کې مجاهد، طالب او ړیرو کړی

۲۰۱۹/۰۳/۱۲
هېدرسليف
ډنمارک

## ولې له تا نه زه په منده هېر شوم؟

**چې دې کوڅې کې ژر په خنده تېر شوم**
**دغسې تـا نــه هم پـه مـنـده هـېـر شوم**

**د مـيـنـې راز مــو و د سترګـو منځ کې**
**ولــې؟ رسـوا د زمــانــې او پــېــر شوم**

۲۰۱۹/۰۴/۱۸
کوپنهاګن
ډنمارک

# ما دې راټلو ته، قدمو ته وو کرلي

## د لاله ګلونه

**په هغه ورځ چې مروره لاړې**

**زړه مي په تورو په چړو باندې ځو ځايه غوڅ شو**

**هر مازديګر مي د خپل زړه د وينو څاڅکي شمېرل**

**په دې پوه نه وم چې راځې او که نه**

**خو ما خپل کار کړی و**

**ما دې راټلو ته، قدمو ته وو کرلي د لاله ګلونه**

۲۰۱۹/۰۴/۲۱
کوپنهاګن
ډنمارک

# د يوه هنرمند مړينه

(مخکې له مړينې مرګ)
ناشناس

**د هنر کلي کې يو غر ونړېد**
**نه، دا ناڅاپ ځلنده لمر ونړېد**

**چا به ويل چې د يو عمر درمند**
**يوې پلټې سره هنر ونړېد**

۲۰۱۹/۰۴/۰۳
هيدرسليف
ډنمارک

## او د خپل زړه په کرونده کې مې
### د تا د ښکلې مینې بزغلې کېنول

د تا مالګین حسن ته غرونه دېوالونه په خبرو راغلل

مګر زه غلی شان ولاړ وم ننداره مې کړله

او د خپل زړه په کرونده کې مې

د تا د ښکلې مینې بزغلې کېنول

۲۰۱۹/۰۵/۱۴
هیدرسلیف
ډنمارک

## او خپل شنه کلي پسې چیغې وهم

**وچه بېدیا کې وچه ونه یمه**

**د مېوې تمه رانه څنګه کوې**

**د سر ګومبزه مې له چیغو ډکه**

**ته رانه بیا مستې سندرې غواړې**

**یوازې درد او سوچ را پاتې دی بس**

**زه پرې د پاسه لاس تر زنې ناست یم**

**د شنو فصلونو آغه مسته کرونده د کلي**

**زما په مخ کې وسوه سکور شوله**

**ایرې، ایرې شوه او بادونو یوړه**

**دغه دی خانته یم بل څوک نه شته دی**

**او خپل شنه کلي پسې چیغې وهم**

۲۰۱۴/۰۷/۰۴
هیدرسلیف
ډنمارک

## بس تا نه غواړم چې په سرو شونډو مسکی شې راته

نو ته به څه سوچ کوې

چې بیا زه څه وایمه

څه غواړمه؟

بیا هماغه خبره

بیا هم زړه خبره

زه بیا هم تا غواړمه

بیا په تکرار سره د تا د وصل هیله کوم

بیا په تکرار له تا نه غواړمه چې هو ووایه

له دې سره یوه وړه خبره بله کوم

بس تا نه غواړم چې په سرو شونډو مسکی شې راته

د لـومړی ورځې پـه شان بـیـا، بـیـا ګلالی شې راته

۲۰۱۹/۰۵/۱۳
هیدرسلیف
ډنمارک

## دا دی تر اوسه هم ولاړ یم

### ننداره د هغې لارې کوم

بې له پوښتنې لاړې وخوځېدې

شا ته دې و نه کتل

ما نه هر څه له لاسه ووتل

او زړه مې ولویده په خاورو شولو

پناه کېدو پورې مې ستا د قدمو ګردونه ښه وشمیرل

دا دی تر اوسه هم ولاړ یم ننداره د هغې لارې کوم

۲۰۱۹/۰۵/۱۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## د کتو ټپ

له ډېر پخوا نه تر دا اوسه په ځرتونو کې یم

څومره معصومه د هوسۍ غوندې وې

وړه وې پاکه د سیرلۍ غوندې وې

خاورو نه جګ تا په منګول کړمه زه

او په کتو، کتو دې خپل کړمه زه

د مینتوب د لیونتوب پوښتنه ما نه کوه

چې د کتو ټپ دې تر نن پورې په زړه ساتمه

اوس مې له زړه نه تیـره جوړه ده ښه صبر کوي

ګورو به تا ته چې تر کومه خپل زړه تیـره ساتي

۲۰۱۹/۰۵/۱۶
هیدرسلیف
ډنمارک

## اوس هم په تمه یو د خوف او د رجا پر پوله

حسن مېرمن دې خپل مخ نه ښيي نور
ګني ايمان د ډېرو تښتي او کوچېږي ورنه
لمر او سپوږمی پټ په اورو کې ښه دي
که لړه مینه لږ رڼا لاسونه ورکړي سره
د زاهد زهد ته تاوان پېښېږي
موږه تقوا، زهد او ټول عبادتونه ورکړل
لا یې د مخ د ننداري یو پوروړي پاتې
اوس هم په تمه یو د خوف او د رجا پر پوله
ګورو چې څه په لاس راځي او که نه؟

۲۰۱۹/۰۵/۱۶
هیدرسلیف
ډنمارک

# دغه یادونه او آهونه،

## نه ساتلی نه ویلای شمه

داسې له خلکو بیگانه یم چې په سوک کې مې خپل ځان مرورلی
داسې له ځانه زه پردی یم چې مې ځانته هم هیڅ پام نه شته دی
یو څو یادونه مې په پټه ښه په خرپ زوروي
یو څو آهونه مې ښکاره شپه ورځ په ترپ زوروي
دغه یادونه او آهونه، نه ساتلی نه ویلای شمه
سم زوړ کمیس یم چې یې لوند کړې بیا یې ونښېځې
دومره تر زور لاندې د اور منځ کې یم
لکه د پښ د اور کوره کې چې وې وسپنه گیر
هره شیبه کې له هر خوا نه د سوټکو باران
پېښو گیر کړی یم د سوک په منځ کې

٢٠١٩/٠٥/١٧
هیدرسلیف
ډنمارک

## شـین قـلـم

سر مې چې غوځ هم کړې، شنیلی شیندم سپرلی شیندمـه
اور نــه شیـنـدم، زړی د ژونــد ښــه ګـلالی شـیندمــه

د اور او ویـــنـــو نـښې هـر لـــوري تــه ډېرې، ډېرې
زه شـین قـــلــم یـــمـــه راغـلــی یـــم شـنیلی شیندمه

۲۰۱۹/۰۵/۱۷
هیدرسلیف
ډنمارک

## زیری راوړی مې د ژوند،
## مرګ ته رخصت ورکوم

اورونه ډېر بل، ویني ډېرې تویې

نور دې دا ودرېږي چې وار یې تېر دی

اوس وار زما دی چې ژړا له هرې خولې ټولوم

د خلکو شونډو کې خندا ته زه اوس سا ورکوم

خندا خوښي په هر یو تن ویشمه

بیا په خوښی د هر یو کور ځنځیر هر سات شرنګوم

زیری راوړی مې د ژوند، مرګ ته رخصت ورکوم

۲۰۱۹/۰۵/۲۲
هیدرسلیف
ډنمارک

# هغه دنیا دې هم تیاره ګڼه

# او سره اورونه

سترګې دې خپله پټې کړېدي، لږ سوچ خو وکړه
په رڼا ورځ دې ځانته خپله تروږمۍ راوستې
بیا ملامت هم ګاونډی، لرې نږدې خلک وي
د فکر خونه کې دې غنه ناڅې
ځان دې په خپله د او هامو په تار کلک تړلی
د جولا تار دې را تاو کړیدی له ټول ژوندونه
که ته په دې دنیا تړلې سترګې پاتې شې نو
هغه دنیا دې هم تیاره ګڼه او سره اورونه

۲۰۱۹/۰۵/۲۲
هیدرسلیف
ډنمارک

# د پــلار هیـلـه

خیـر که کنډو شوم، تـه دې ځـان پوره کړه
زدکـړو تــه پــام کـړه خپل جهان پوره کړه

زه دې شـم سـتړی او بـېــخـوبــه رنــځور
تــه پـل ورجـګ کـړه، یـو انسان پـوره کړه

۲۰۱۹/۰۵/۲۸
هیدرسلیف
ډنمارک

# ما مې د ورکې مینې یاد دننه زړه کې ایښی

ښو نا آشنا کلو ته لاړمه د تا په تمه

ښو نا آشنا سترګو ته، ښو ځلې مې وکتلې

ما لټوله خپله ورکه مېنه، ورکه مینه

خو ډېره لړه او وړه نښه مې ونه مونده

دا دی اوس ناست یمه، لاوروکی یمه

مېنه مې وسوه د غلیم لاس کې شوه

د خپلې مینې ګل مې زړه کې ایښی

له خپلو اوښکو یې خړوب ساتمه

خوشاله دې ته یمه

چې مې د ورکې مینې یاد دننه زړه کې ایښی

۲۰۱۹/۰۶/۰۹
هیدرسلیف
ډنمارک

## زموږ په منځ کې يو واټن وو،

### دا و زر نوري کلونه

ستاسو سيمه تکه شنه وه،
ته هم شنه وې او خندانه
زموږ سيمه کې جگړه وه او سپېره وه
زه هم ښه دوړو کې پټ وم
او پر سر مې راته بار وو ډېر غمونه
د ککرې په گومبزه کې چاودنې
د بمونو ډېر غړونه
ستا په مخ کې سره گلونه
زما پر لاره وې سرې وينې
او سره شوي گودرونه
ته يې خپله اټکل وکه
ستاسو سيمه تکه شنه وه او آرامه
زموږ سيمه کې جگړه وه او سپېره وه
اوس ته خپله راته وايه:
چې ته چېرې او زه چېرې
زموږ په منځ کې يو واټن و
لرېوالی يې ډېر نه و
دا و زر نوري کلونه

۲۰۱۹/۰۶/۱۰
هيدرسليف
ډنمارک

## نور خلک، نور قومونه

زموږ همځولو، ځان ښه وڅانده، خوځون ته چمتو

له مخ یې لرې کړل ازغي او تیږې

د پرمختګ او تمدن لاره یې ونیوله

پښتون ولاړ دی په هماغه برید کې

پښتون ولاړ دی د غیرت؟ پر پوله

۲۰۱۹/۰۶/۲۲
هیدرسلیف
ډنمارک

## له کاروان وروسته پاتې

وروسته وم، ټیټ ومه او خلی ومه
نور وو سپاره زه تنها پلی ومه

ګوزار د ټولي نږۍ ما باندې و
ټول ترې نه ورک، زه یې موندلی ومه

۲۰۱۹/۰۶/۲۶
هیدرسلبف
ډنمارک

## ښه ده چې ویښ شومه او وخوځېدم

د غفلت خوب نه که ویښ شوی نه وای
لا یې وختې سیخ کې پیېلی ومه

که مې قدم نه وای اخیستی، بلا
ښکاره ده دا، اوس بې خوړلی ومه

د پوهې وره ته که ورغلی نه وای
اوس بې په بل څه هم لړلی ومه

د غنې تار یې تاواوه له ما نه
که تللی نه، اوس بې تړلی ومه

مشعل د پوهې مې که لاس کې نه وای
اوس بې له خپل کوره شړلی ومه

۲۰۱۹/۰۶/۲۶
هیدرسلیف
ډنمارک

## یو سړی

### څو یې مخونه

د خوشال بابا په اجازه:

هم یې ووژنې پخپله، هم یې قبر ته ژړا کا
څه دوستم دی څه یې مکر، اوښکې تویې او خندا کا

بېسواده و چپې و، بیا مسلم شو او راستی شو
ډیګریوال یې په لښکر کې، اوس حکمونه کا بلا کا

۲۰۱۹/۰۷/۱۲
هیدرسلیف
ډنمارک

## رانغلې، چې رانغلې

کوڅو کې مې، راتگ تــه دې ریحان کرلی و
مـــا ځان کرلی و، هـم مـــې افـغـــان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

هوس تـه مې هیـڅکلـه، ورپام غوندې هم نه و
یـو خیـال مـې د هـغـه، د دې جهان کـرلی و
رانغلې، چې رانغلې

پټې او کروندې مې وې شنې کړې په هر لورې
گرځنو د کوڅوکې مـې خپل ځان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

لالـــه او ارغـــوان مـــې درولـــې هـرکلې تـه
گـلابـــو غـــوټـې لانـــدې مې ارمـان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

مـا خـپـلـه هـڅـه وکړه، تـې منې کـه نه منې
خـواریـو سره مـل مې یـو جانـان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

مـــا لاره پـه امید سره څارله، خو رانـغلې
لـه اوښـکو سره مل مې خپل ایمان کرلی و
رانغلې، چې رانغلې

۲۰۱۹/۰۶/۲۶
هیدرسلبف
ډنمارک

## آیــا تــول بــایـــد حــلال شي؟

دلـــتـــه تــول مــبــاح الـــدم دي
دلـــتــه تــول ژونــدي، بې دم دي

آیـــا تـــول بـــایـــد حـــلال شي؟
چـــي دا خــــــه زوی د ادم دي

زمـــانـــه ســـرچـــپـــه شـــوې
ګـنـاه نـــه، ســـرونـــه خـــم دي

مـاشـومـــان، ځـوانـــان زاړه مـو
هــمــګي مـرګ ســره ضــم دي

پـــه هیـــڅ ځای کې امان نه شـتـه
زهـر درکـړي، وای: مرهـم دي

ګـنـاه کـړي، بـــېـــګـنـــاه هـــم
تـــول د دوی لـــه دیـده ګرم دي

ربـــه تـــه یـــي جـــوړوی شي
دغـــه هـــر خـــه چي برهـم دي

۲۰۱۹/۰۷/۰۱
هیدرسلبف
ډنمارک

## د شاعر بیوګرافي:

پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نیټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کي زیږیدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کي کړي دي، بیا یي د کابل په محمود طرزي لیسه کي خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یی د میدان ښار د نرخ په لیسه کي پای ته ورساوه.



د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کي یی د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کي لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یی د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کي د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کي ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کي یي د استاد صدیق روهي په لارښووني د ماسترۍ د تیزس دفاع وکړه.

آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسي شعر وایي، نوی شعر ډیر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په سل ګونو علمي تحقیقي مقالې، شعرونه او کتابونه یې په هیواد کي دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بریښنایي خپرونو کي نشر شوي دي.

د هجري شمسي نېټې په شپېتمه لسیزه کي د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالی دنده ورله غاړې وه.

دغه راز د هجري شمسي نیټي په شپیتمه لسیزه کي د اوږدې مودې له پاره د راډیو افغانستان د روزنې ادارې د علمي پروګرام «موږ او اوریدونکي» لیکوال پاتې شوی دی.

آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.

په هیواد کي دننه او له هیواد څخه د باندې یې په لسګونو علمي او فرهنګي سمینارونو کي ګډون کړی، مقالې یې ورته لیکلي دي او په یادو سیمینارونو کي یې لوستي دي.

په ماسکو کي د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولنې د منشیتوب او د یادې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسولیتونه ورله غاړې وو.

د سویډن په بیلابیلو ښارونو کي، د سویډن هیواد او په سویډن کي د میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنۍ ژبې سیمینارونو ته بلل شوی او د یو لکچرر په صفت یې کارنده او فعاله برخه په کي اخیستې، مقالې یې ورته لیکلي دي او له سکندنویایي هیوادونو څخه د مورنۍ ژبې له راغلو ښوونکو سره یې د مورنۍ ژبې پر ستونزو او په پردې چاپیریال کي د مورنۍ ژبې د

زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږېدلی، مشورې يې ورسره کړې او د سويډن په ستاکهولم، يوتيبورې او مالمو ښارونو کې يې ګڼ لکچرونه ورکړې دي.

**آصف بهاند د خپل ادبي فعاليت په اوږدو کې دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:**

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر۱۲۹۷ پورې (د ليسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسيکو شاعرانو له نظره (د پوهنيارۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخييل مسأ له (د پوهندويۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دويم کتاب، د کابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دريم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبياتو د لرغوني دورې منظوم متون، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبياتو د اوسنۍ دورې منظوم متون، د پښتوځانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو د دولتي کوميټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دويمه درجه مطبوعاتي جايزه يې ګټلې ده،

۱۲ ـ مرورہ مخکه (د شعرونو ټولګه) ، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې د دانش خپرندويې ټولنې له خوا خپره شوې ده،

۱۳ ـ لارورکي لارويان، لومړی ځل په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويې ټولنې خپور کړی دی او دويم ځل د ۲۰۱۷ کال په جولای کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وږه ښاپيرۍ، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، په ۲۰۱۸ کال په کابل کې چاپ شوی دی، مومند خپرندويې ټولنې په جلال آباد کې خپور کړی دی،

۱۵ ــ د سمندر وږه ښاپيرۍ او نه (۹) نورې کيسې، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۸ کال په جنورې کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۶ ــ لنډۍ او د ښتولو ستونزه، ، د ۲۰۱۸ کال په جون کې په افغان جرمن آنلاين کې پر ليکه شوی دی،

۱۷ ـ د کوچنیانو ادبیات،(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) دویم ټوک، د دوه زره اوه لسم (۲۰۱۷) کال په اګست کې، په افغان جرمن آنلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۱۸ ـ د باران سیوری (د شعرونو ټولګه)، ، د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی ده،

۱۹ ـ د تعلیم ډیوه او د نوي نسل روزنه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ کال په فبروری میاشت کې، په افغان جرمن آنلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی،

۲۰ ـ د امپراتور نوې جامې او شپږ نورې کیسې، لیکوال: هانس کریستین اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، د ۲۰۱۹ کال په مې میاشت کې په افغان جرمن آنلاین کې پر لیکه شوی دی،

۲۱ ـ د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه (د مقالو ټولګه)، د ۲۰۱۹ م کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۲ ـ د ډنمارکي فرهنګ څو غوره بېلګې (د ډنمارک او ډنمارکیانو په باب د مقالو ټولګه)، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جنوری میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۳ ـ یو ځل مې د لاس ورغوی وګوره! (شعري ټولګه)، د ۲۰۲۰ م کال په مارچ میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۴ ـ ژوندي یادونه، لومړی ټوک، د ۲۰۲۰ م کال په جولای میاشت کې، په افغان انلاین پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۵ ـ د تللو یادونه، د ۲۰۲۰ ام کال په جولای میاشت کې، په افغان جرمن پورټال کې پر لیکه شوی دی.

۲۶ ـ راشه! چې سترګې مې له مځکې نه راټولې کړمه (څلورمه شعري ټولګه)، همدا اثر.

**چاپ یا آنلاین کولو ته تیار:**

ـ د شعرونو دوې ټولګې،

ـ او درې عنوانه ځېرنیز کتابونه.

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال د ډنمارک په هیواد کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو ځېرنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.

پای